# د خپلواک ، نیمواک او غبرګغږونو له پلوه د سهیل ختیځ ګړدود ډلې د صوتي خصوصیاتو تحقیقي مطالعه

# A research based study of the phonological features of south-east varieties wtih the reference of vowels, Simi vowels and diphthongs.

Issn 2304-1463

Mir Hassan Khan Atal[1]
Dr. Farkhanda Liaqat[2]

## ABSTRACT

Vowel sounds can be considered the most important and significant element of a language, because without vowel sounds, others sound like consonants, cannot move or connect with each other. in other words, it can also be said that these are the voices that give life to the silent voices, give them breath. another important thing is that a sylable is created only with the help of an vowel sounds. every syllable must have at least one vowel sound. a word that can be considered as the foundation of a language or dialect cannot come into existence until the process of making the sylable is done. like language, the role of vowel can be considered important in the development of a dialect or rigional varieties the important thing is that when evaluating the phonological features of a dialect, it is necessary to study and analyze the vowel sounds of that dialect, as well as rigional varieties. the south-east dailect (southern pashtunkhwa), which can be considered a part of the south-west dailect (soft or kandahari dialect), has its own phonological features like some other dialects of the pashto language. especially in terms of vowel sounds, there are significant differences with other dialects. in this research paper, a research review of the vowel of the south-east dialect has been made. and in the light of them, an attempt has been made to explore the special phonlogical features that arise as a result of the vowel sounds.

## پېژندګلوي:

خپلواک غږونه (vowel sounds) د یوې ژبې د غږېز نظم تر ټولو اهم توکے ګڼلے شي، ځکه چې د دغو غږونو (خپلواک غږونه) له کارولو او مرسته بغېر بېواک غږونه (consonant sounds) نهٔ شي کولے چې کوم حرکت وکړي یا له خپل بل ځنګلوري بېواک غږ سره کوم تعلق پیدا شي. په نورو الفاظو دا هم وئیلے شو چې دا هغه غږونه دي چې بېواک غږونو ته ژوند

1. Ph.D. scholar, Pashto academy, university of Peshawar.
2 . Professor, Pashto academy, university of Peshawar

ورکوي، په هغو کښې يو ډول ساه اچوي. يعني تر څو چې ئې خپلواک غږ نهٔ وي ملګرے شوے هغه به هم داسې بې حرکت او خاموس پروت وي. بله د مهمه خبره دا ده چې د خپلواک غږونو له استعمال بغېر يو سېلاب چې په اصل هغه غږېز واحد دے چې د يوې کلمې او کلمه بيا د ژبې عمارت سازوي هم نهٔ شي منځ ته راتلے. هر سېلاب به هرومرو يو خپلواک غږ لري. پرته له خپلواک غږه د سېلاب وجود نيمګړے او نامکمل ارزول کېږي. هم دا وجه ده چې کله د يوې ژبې يا لهجوې د فونولوجيکي خصوصياتو د مطالعې يا تجزئې پر وخت ضروري ګڼلے شي چې تر ټولو وړومبے د هغې ژبې د خپلواک غږونو مطالعه يا تحليل وشي. د سهېل ختيځ ګړدود ډله (جنوبي پښتونخوا) چې په لوے سر کښې د سهېل لوېديځ ګړدود ډلې (نرمه يا کندهاري لهجه) برخه ګڼلے شي، د پښتو ژبې د يو شمېر نورو لهجو يا لهجوي ډلو په څېر خپل ځانګړي فونولوجيکي خصوصيات هم لري. په خاصه توګه د خپلواک غږونو له پلوه دغه ګړدود ډله د پښتو ژبې له نورو ټولو لهجو سره د پام وړ غږېز توپيرونه لري. په دې تحقيقي ليکنه کښې د سهېل ختيځ ګړدود ډلې د خپلواک غږونو تجزيه او تحليل شوے دے، او هغه غږېز او لهجوي خصوصيات تر مطالعه لاندې نيول شوي دي چې د دغو غږونو (خپلواک) له امله منځ ته راځي، او دغه لهجوي ډلې ته ئې ځانګړے لهجوي رنګ ورکړے دے.

## (۱). ځانګړي صوتي او لهجوي خصوصيات

سهېل ختيځ ګړدود ډله چې په مجموعي توګه د پښتون مېشت سيمو په ليري سهېل ختيځ سيمو ( سهېلي پښتونخوا) کښې وئيل کېږي، د پښتو يوه داسې ځانګړې لهجوي ډله ده، چې نه يوائې په اطرافو بلکې په پولو کښې ئې دننه هم لوے شمېر داسې ژبې لکه: براهوي، سلېماني بلوڅي، سندهي، جټکي، کهتراني، جعفرکي، هزارګي، اردو او نورې وئيل کېږي چې په يوهٔ نهٔ بل شکل ئې د دغې لهجوي ډلې غږېز نظام يا لهجوي رغښت تر خپلو اغېزو لاندې راوستے دے. دا ډول په يو شمېر اطرافو کښې ئې د پښتو نورې لهجې يا لهجوي ډلې لکه: شمال لوېديځ ګړدود (غلزي لهجه) وزيرواله لهجه، دامانواله لهجه او نورې هم وئيل کېږي. هم دا وجه ده چې دغه لهجوي ډله د خپلو غږېز يا لهجوي خصوصياتو له پلوه ځان ته بېل يا وئيلےشو منفرد مقام لري. نامتو ژبپوه مارګنسټرين په خپل تحقيقي رپورټ (Report on a linguistic mission to north-western India) کښې د دې لهجوي ډلې (سهېل ختيځ ګړدود) د يو شمېر لهجوي خصوصياتو په اړه يو ځاے داسې وائي:

> "The pashto. dialects of balochistan all belong to the southern or 'soft' variety of the language, which does not change (ṣ) and (ẓ) into (x) and (ğ). the most important pathan tribes of the province are the kakars and the spin (white), and tor (black) tarins"[1]

ژباړه: د بلوچستان د پښتو ټولې لهجې چيرې چې د (ښ) او (ږ) غږونو په (x) او (ğ) نهٔ تلفظ کېږي، له سهېلي يا نرمې لهجې سره تعلق لري. کاکړ، سپين او تور ترين د دې سيمې تر ټولو هم پښتانهٔ قبائيل دي.

له نوموړي ژېبوه علاوه يو شمېر نورو ژبپوهانو او محققينو هم په خپلو ليکنو او ژبې اړوند مباحثو کښې دغه لهجوي ډله (سهېل ختيځ ګړدود) د سهېل لوېديځ ګړدود (کندهارۍ يا نرمه لهجه) برخه يا ذيلي څانګه ياده کړې ده. او د دې بنيادي وجه دا ده چې دغه دواړه لهجوي ډلې تر خپل منځ ژور فونولوجيکي، مارفولوجيکي، لغوي او نورې لساني اړيکې او مماثلتونه لري. خو بل لور ته دغه لهجوي ډله (سهېل ختيځ ګړدود) له سهېل لوېديځ ګړدود (نرمه يا کندهارۍ لهج) سره داسې لهجوي يا غږيز توپيرونه هم لري چې د يوې لهجې د رغښت يا پايښت دپاره مهم ګڼلے شي. په خصوص د خپلواک غږونو (vowels) له پلوه دغه لهجوي ډله (سهېل ختيځ ګړدود) د پښتو ژبې له نورو ټولو لويو او کوچنيو لهجو يا لهجوي ډلو سره د پام وړ غږيز او لهجوي توپيرونه لري. چې دلته ئې پرتليزه جائزه اخلو.

(۲). د خپلواک (vowels) غږونو له پلوه

لکه مخ کښې هم اشاره ورته وشوه چې د يو ژبې يا لهجې د غږيز نظام په سازولو يا رغښت کښې د خپلواک غږونه (vowels) له رول او اهميت څخه په يوهٔ صورت هم انکار نهٔ شےکېداې. ځکه چې د هغه غږونه دي چې له شتون پرته ئې نور ټول غږيز توکي لکه بېواک غږونه (consonansts sounds) او نور هيڅ هم نهٔ شي کولے. هم د دې غږونو برکت دے چې په مرسته ئې يو سېلاب چې وروسته د يوې د کلمې د رغښت تصور ممکنه کوي منځ ته راځي. او کلمه بيا د جملې او جمله بيا د يوې ژبې د پوره نظام اډانه سازوي. بل لور ته د يوې ژبې په څېر د يوې لهجې د رغښت يا جوړښت په کار کښې هم د دغو غږونو (خپلواک غږونه) رول تر هر څه مهم ګڼلے شي. ځکه دغه خپلواک غږونه دي چې يو لهجې ته ځانګړے رنګ يا رغښت ورکوي. د پښتو ژبې د يو شمېر نورو لويو لهجوي ډلو په څېر سهېلختيځ ګړدود ډله هم د دغو غږونو (خپلواک غږونه) له پلوه ځان ته داسې ځانګړي غږيز نظام لري، چې د دې ګړدود ډلې په مجموعي رغښت کښې د پام رول لوبوي.

(۲.۱). لنډ (ي ـــ i) خپلواک غږ:

(ي ــ i) چې د تولید او مخرج له پلوه ناګرد ، سست او پورتنے خپلواک غږ دے د پښتو په غږیز نظام کښې د لنډې یا معروفې (ي) په نوم پېژندل کېږي. د سهېل ختیځ ګړدود ډلې په غږیز نظام کښې دغه خپلواک غږ (ي ــ i) کوم داسې ځانګړي غږیز بدولونونه نۀ خپلوي چې په نتیجه کښې ئې د پام وړ غږیز یا لهجوي تغیرونه رامنځ ته شي. د کلمو په سر، منځ، او پاي کښې خپل اصل تلفظ پر ځاے ساتي. لکه:

| | غږ | سر | منځ | پاۍ | سر | منځ | پاۍ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| منځنۍ | /ي/ | ایران | ختیځ | سړي | ایستل | څیښل | منګي |
| | /i/ | irān | xatiǰ | saṛi | istəl | čišəl | mangi |
| | | ایجاره | لیکنه | منځني | ایستل | ټینګ | خپلوي |
| | | ijāra | likana | manǰni | istəl | ṭing | xpəlwi |

## (۲.۲). د (ې ــــ e) خپلواک غږ:

(ې ــ e) چې د تولید ځاے او طریقه تلفیظ له پلوه منځنے، مخنے ناګرد او ټینګ خپلواک غږ دے د پښتو په غږیز نظام کښې د اوږدې یا مجهولې «ې» په نوم پېژندل کېږي. د سهېل ختیځ ګړدود ډلې په غږیز نظام کښې دغه خپلواک غږ (ې ــ e) د خپل تلفظ له پلوه ځان ته ځانګړي غږیز خصوصیات لري. ځکه چې دغه خپلواک غږ پر یوۀ وخت څو ډوله غږیز خصوصیات خپلوي. په ځینو ځایو کښې په یوۀ او ځینو کښې بیا په بل خپلواک غږ ځان بدلوي. د « سهېل ختیځ ګړدود دلې لساني مطالعه» کښې د دې خپلواک غږ د تلفظ د بېلابېلو قاعدو او هغو تعین داسې شوے دے: منځنے

"وړومبۍ قاعده: د کوم مفرد ښځینه نوم یا بلې مونث سینس لرونکې کلمې د پاے (ه) چې ملفوظ، یعني پوره غږ ولري، د جمع پر وخت ئې د پاے (ه) په مجهوله (ې) بدلېږي.

دویمه قاعده: د کوم مفرد ښځینه نوم یا بلې مونث سینس لرونکې کلمې د پاے (ه) چې غېرملفوظ یعني د پوره غږ پر ځاے نیم یا د (زور) غږ ولري، د پاے (ه) ئې په معروفه (ي) اوړي.

دریمه قاعده: د هر هغۀ ښځینه نو او یا بله کلمه چې تر اخر پر مخ کښې (second last) (ما قبل) څپه ئې زور (خج) راشي، چې کله د جمع ته اوړي نو د پاے (ه) ئې په معروفه (ي) بدلېږي"[2]

د پاڅ د ملفوظي او غېر ملفوظي (ه) د تلفظ له پلوه: د کوم ښځینه مفرد نوم یا بلي مونث سینس لرونکي کلمي په پای کښي چي کله غېر ملفوظه (ه) راشي، نو د سهېل لوېدیځ ګړدود ډلي (کندهاری لهجي) په څېر د دغي لهجوي ساحي (سهېلي ښتونخوا) لوی شمېر اوسېدونکي ئي د جمع پر وخت د پای دغه (ه) په معروفه (ي — i) تلفظوي. چي په نتیجه کښي ئي د پام وړ لهجوي خصوصیات رامنځ ته کېږي. لکه:

| غېر ملفوظه | | غېر ملفوظه | | غېر ملفوظه | | غېر ملفوظه | غېر ملفوظه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کنده | کندي | ښځه | ښځي | سیمه | سیمي | خبره | خبري |
| kanda | kandi | ṣaǰa | ṣaǰi | sima | simi | xabara | xabari |
| ونډه | ونډي | لیکنه | لیکني | ژبه | ژبي | برخه | برخي |
| wanḍa | wanḍi | likana | likini | ʒaba | ʒəbo | barxa | barxi |
| څېړنه | څېړني | سترګه | سترګي | وړانګه | وړانګي | نرمه | نرمي |
| čeṛana | čeṛani | starga | stargi | wṛanga | wṛangi | narma | narmi |

خو بل لور ته چي د کوم ښځینه مفرد نوم یا بلي مونث سنس لرونکي کلمي پای په ملفوظه (ه ـــ ) ختم شي، نو د پای دغه (ه ـــ a) په (ې ـــ e) تلفظ کېږي.لکه: دوازه: دروازې، قافله: قافلې، ښایسته: ښایستې او نور.

خو د دې لهجوي ساحې (سهېلي پښتونخوا) د انتهائي شمال ختیځ سیمو لکه ږوب، شېراني او نورو اوسیدونکي د پښتو ژبې د یو شمېر نورو لهجو لکه: (شمال ختیځ، شمال لوېدیځ، ترینو او کرلاڼي) د غږاکونکو په څېر په دواړو صورتونو (ملفوظه او غېرملفوظه) کښې د پای (ه) په معروفه نهٔ بلکې په مجهوله یا اوږده (ې) اوړي. لکه:

| غېر ملفوظه | | غېر ملفوظه | | غېر ملفوظه | | غېر ملفوظه | غېر ملفوظه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کنده | کندې | ښځه | ښځې | سیمه | سیمې | خبره | خبرې |
| kanda | kande | ṣaǰa | ṣaǰe | sima | sime | xabara | xabare |
| ونډه | ونډې | لیکنه | لیکنې | ژبه | ژبې | برخه | برخې |
| wanḍa | wanḍe | likana | likine | ʒaba | ʒəbe | barxa | barxe |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نرمې | نرمه | وړانګې | وړانګه | سترګې | سترګه | څېړنې | څېړنه |
| narme | narma | wṛange | wṛanga | stare | starga | čeṛane | čeṛana |

د ما قبل څپې د زور (خج) له پلوه: دا ډول د هر هغهٔ ښځینه نوم او یا بله کلمه چې تر او سترۍ وړومبي (ما قبل) څپه ئې زور (خج) ولري، چې کله د جمع ته اوړي نو د پاے (ه ـــ a) ئې په معروفه (ي ـــ i) تلفظ کېږي.[3] لکه: باندي، پوري، غوندي، سیمي، ودي، پوښتني، غواوي، سترګي، لیکني، میرمیني، وړاندي، او نور

| | ماقبل خج | | ماقبل خج | | ماقبل خج | | ماقبل خج |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| خبري | خب:ره | سیمي | سي:مه | ښځي | ښ:ځه | کندي | کن:ده |
| xabari | **xab**ara | simi | **si**ma | ṣaǰa | **ṣa**ǰa | kandi | **kan**da |
| برخي | بر:خه | ژبي | ژب:ه | لیکني | لي:کنه | ونډي | ون:ډه |
| barxi | **bar**xa | ʒəbo | **ʒə**ba | likini | **lik**ana | wanḍi | **wan**ḍa |
| نرمي | نر:مه | وړانګي | وړا:نګه | سترګي | ستر:ګه | څېړني | څې:ړنه |
| narmi | **nar**ma | wṛangi | **wṛa**nga | stargi | **star**ga | čeṛani | **če**ṛana |

خو دلته باید یوه بله یادونه هم وکړو چې دغه خپلواک غږ (ې ـــ e) دوه نور داسې بلغږونه (الوفونونه) هم لري چې یو اوږد او بل نسبتاً لنډ وئیل کېږي. لکه د پښتو ژبې نامتو لیکوال او ژبپوه ښاغلي مجاور احمد زیار په خپل کتاب (پښتو پښویه) کښې د دغه خپلواک غږ (ې ـ e ) د دغو دوو بلغږونو په اړه یو ځاے وائي:

"منځوال منخنۍ، ناګرد او کېښکلے (ټېنګ) اواز دے، دوه الوفونه لري، په سر او منځ کې ډېره اوږده او په پاے کې لږ څهٔ لنډه راځي، بېلګې ئې دا دي: ډېر (ḍer) مستې، (maste) هېر (her) شودې (ʃode) او نور" [4]

خو بل لور ته د بلغږونو تلفظ پر خپل ځاے خو د سهېلي لوېدیځ او سهېل ختیځ غږاکونکي (لساني) چې دلته کوم تلفظ کاروي هغه له دغو بلغږونو سره هم ژور او بنیادي توپېرونه لري. ځکه لنډ بلغږ او دغه تلفظ باید بېل بېل و ارزول شي.

البته د دې لهجوي ساحې د انتهائي شمال ختیځ سیمو لکه ږوب، شېراني او نورو اوسیدونکي په دواړو صورتونو (ماقبل څپه او ماقبل څپه نهٔ خجنه) کښې د پاے (ه) په معروفه نهٔ بلکې په مجهوله یا اوږده (ې) اوړي.

دا ډول د سهېل ختیځ ګړدود ډلې په غږېز نظام کښې دغه خپلواک فونیم (ې) له پورته غږېزو ځانګړو یا تغیراتو علاوه یو شمېر نورې د پام وړ ځانګړنې هم لري. چې دلته ئې تفصیل رواړو.

د کلمو د منځ د موقعیت له پلوه: دغه خپلواک فونیم (ې ـــ e) چې کله د کومې کلمې په منځ کښې راشي، نو د دغې لهجوي ډلې غږاکونکي (لساني) ئې د اصل تلفظ پر ځا ے په دریو نورو متبادلو خپلواکو فونیمو تلفظوي. مثلاً د دې لهجوي حوضې ( سهېلي پښتونخوا ) د منځنیو، شمال لوېدیځ او سهېلي سیمو هغه اوسېدونکي چې په کاکړي او نورو سیمو ایزو لهجو خبرې کوي، هغه ټول دغه خپلواک غږ (ې ـــ e) په زور (هَ ــ a) اړوي.

| معیاري ګړدود | منځنۍ /ک | معیاري ګړدود | منځنۍ /ک | معیاري ګړدود | منځنۍ /ک |
|---|---|---|---|---|---|
| بربېښنا | برښنا | څلوېښت | څلوښت | پېړے | پړے |
| braśnā | braśnā | tsəlweṣt | tsəlwaṣt | peray | paray |
| پېرزو | پرزو | سپېرۀ | سپره | ګېډه | ګډه |
| perzo | perzo | sperə | sparə | geḍa | gaḍəa |
| پېروته | پروته | سربېره | سربره | کېږي | کَږي |
| perwata | perwata | sarbera | sarbara | keẓi | kazi |

خو د دې لهجوي ساحې د شمال ختیځ سیمو ږوب، شېراني او نورو اوسېدونکي دغه خپلواک غږ (ې ــ ) په (اــ ā) او زور (هَ ـــ a) تلفظوي. چې په نتیجه کښې د پام وړ لهجوي او غږیز تغیرات رامنځ ته کېږي. لکه:

| معیاري ګړدود | شمال/خ/ ګ | معیاري ګړدود | شمال/خ/ ګ | معیاري ګړدود | شمال/خ/ ګ |
|---|---|---|---|---|---|
| پېژنم | پاژنم | شمېرل | سمارل | روانېږي | رواناږي |
| pežanam | pāzanam | śmerəl | smārəl | rawāneẓi | rawānāẓi |
| پېغلتوب | پاغلتوب | ښېرا | ښرا | پوهېږي | پو:اږي |
| peγəltob | pāγəltob | śerā | śara | poheẓi | po:āẓi |
| پېغله | پاغله | کېږدۍ | کاږدۍ | رارسیږي | رارساږي |
| peγəltob | pāγla | keẓi | kāẓi | rārasiẓi | rārasāẓi |

د دې لهجوي ساحې د شمال لوېديځ سيمو پښين، چمن، کلا عبدالله خان او نورو اوسېدونکي چې په اصل کښې په سهېل لوېديځ ګړدود خبرې کوي، دغه خپلواک غږ (ې ــ e) په (ي ــ i) تلفظوي. چې په نتيجه کښې ئې د پام وړ غږېزې او لهجوي ځانګړنې رامنځ کېږي. لکه:

| معياري ګړدود | شمال/خ/ ک | معياري ګړدود | شمال/خ/ ک | معياري ګړدود | شمال/خ/ ک |
|---|---|---|---|---|---|
| سېرلے | سيرلے | تېريږي | تيريږي | پېژنم | پيژنم |
| serlay | sirlay | teriẓi | tiriẓi | pežanma | pižanam |
| کېږي | کيږي | لوېږي | لويږي | پېغلتوب | پيغلتوب |
| keẓi | kiẓo | lweẓi | liwiẓi | peγəltob | piγəltob |
| ګېډه | ګيډه | خبرېږي | خبريږي | پېغله | پيلغه |
| geḍa | giḍa | xabreẓi | xabriẓi | peγla | piγla |
| ګېډۍ | ګيډۍ | روانېږي | روانيږي | پېغور | پيغور |
| geḍəy | giḍəy | rawāneẓi | awāniẓi | peγor | piγor |

(۲.۳). د ه‍َ ـــ a) خپلواک غږ:

(ه‍َ ـــ a) لاندينے، منځنے، ناګرد او سست خپلواک غږ او د سهېل ختيځ ګړدود په غږېز نظام کښې هغه غږېز خصوصيات لري، لکه د پښتو ژبې په نورو ګړدودونو کښې. د کلمو په سر منځ او پاے کښې راځي. لکه:

| غږ | معياري ګړدود | منځنۍ/ ک | معياري ګړدود | منځنۍ/ ک | معياري ګړدود | منځنۍ/ ک |
|---|---|---|---|---|---|---|
| /ه‍َ/ | اختر | اختر | سر | سر | پښه | پښه |
| /a/ | axtar | axtar | sar | sar | pṡa | pṡa |
| | اخلم | اشر | ختګر | ختګر | تخته | تخته |
| | axlam | aṡar | xaṭgar | xaṭgar | taxta | taxta |

(۲.۴). (ۀ ـــ ə) :

(ۀ ـــ ə) ، منځنے، منځوال، ناګرد او سست خپلواک غږ او د کلمو په منځ او سر کښې وئيل کېږي، په سر کښې ډېر لږ سترګو کېږي. ښاغلے محمود مرهون ئې هم په خپل کتاب

«اواز پوهنه» کښې د منځ او پای مثالونه راوړي دي. او وائي: زورکے (ه ــــ ə) لکه د زړۀ او زۀ په کلمو کې[5] دغه خپلواک غږ (ه ــــ ə) د سهېل ختیځ ګړدود په غږیز نظام کښې ټول هغه ډول غږیز خصوصیات لري لکه د پښتو ژبې په نورو ګړدودونو کښې، البته د کلمو په سر کښې ئې مثالونه نۀ شو مونده، په منځ او پای کښې راځي. لکه:

| غږ | معیاري ګړدود | منځنۍ /ک | معیاري ګړدود | منځنۍ /ک | معیاري ګړدود | منځنۍ /ک |
|---|---|---|---|---|---|---|
| /ۀ/ | کتل | کتل | زړۀ | زړۀ | پښتانۀ | پښتانۀ |
| /ə/ | katəl | katəl | zṛə | zṛə | paṡtānə | paṡtānə |
| | خپل | خپل | ښۀ | ښۀ | کاټۀ | کاټۀ |
| | xpəl | xpəl | ṡə | ṡə | katə | katə |

(۲.۵). (ا /آ ــــ ā):

(ا/آ ــ ā) چې لاندینے، وروستني، ناګړد او ټینګ خپلواک غږ دے د سهېل ختیځ ګړدود په غږیز نظام کښې هم کابو هغه ډول غږیزې ځانګړنې لري، لکه د پښتو ژبې په نورو ګړدودونو کښې. ځکه چې دغه غږ دلته هم زیاتره وخت د کلمو په منځ او پای کښې وئیل کېږي. د ډېر کوشش باوجود په دې لهجوي ساحه کښې داسې کلمې نۀ شوې ترلاسه چې سر (ا/آ ــ ā) ئې غږ واضع یا په خپل اصل تلفظ ووئیل شي. فقط اسپه، اس او یو شمېر نورې داسې کلمې دي چې د سر (ا/آ ــ ā) په اصل تلفظ وئیل کېږي. بله د پام وړه خبره دا ده چې د دې لهجوي ساحې هغه ټول غږاکونکي چې لوستي نۀ دي د مستعار کلمو لکه آسمان، آزادي، اواز، آباد، آرام، آرزو، آریانه، آزار، ازموینه، آیت، آستانه، او نورو د سر (ا/آ ــ ā) هم په لنډ غږ یا (ه ـ a) تلفظوي.

خو بل لور ته که ته وکتل نو دغه لهجوي ځانګړنه یوائې د دې لهجوي ساحې (سهېلي پښتونخوا) تر حدوده محدوده نۀ ښکاري، بلکې پښتانه ټول په دې برخه کښې یوۀ بل ته ورته لهجوي خصوصیات لري. ځکه چې د پښتو ژبې نامتو ژبپوه او لیکوال ښاغلي مجاور احمد زیار هم په خپل کتاب «پښتو پښویه» کښې دې خبرې ته اشاره کړې ده چې په پښتو کلمو کښې د سر (ا/آ ـ ā) ډېر لږ تر سترګو کېږي. هغه وائي.

"د ګړ په سر کښې ئې ډېر لږ څرک لیدل کېږي لکه په آس (ās)، آر (ār)، اړ (āṛ) کې"[6]

| غږ | معياري ګړدود | منځنۍ/ک | معياري ګړدود | منځنۍ/ک | معياري ګړدود | منځنۍ/ک |
|---|---|---|---|---|---|---|
| /ا/آ/ | آسمان | اسمان | خپلواک | خپلواک | کلا | کلا |
| /ā/ | āsmān | āsmān | xpəlwāk | xpəlwāk | kəlā | kəlā |
| | آسپه | آسپه | ورابانړے | منځوال | هوا | اوا |
| | āspa | āspa | wrābāɳay | manǰwāl | āsmān | āsmān |
| | آواز | اواز | واټڼ | واټڼ | برېښنا | برښنا |
| | āwāz | āwāz | wātāɳ | wātāɳ | breśnā | braśnā |
| | آباد | ابات | وراشۀ | وراسۀ | وينا | وينا |
| | ābād | ābāt | wrāśə | wrāsə | waynā | waynā |

(۲.۶). **مجهول يا اوږد (و ــــ o)** : (و ـ o) منځوال، وروستني، ګړد او ټينګ خپلواک غږ او د سهېل ختيځ ګړدود ډلې غږاکونکي ئې هم په هغه شېر تلفظ کېږي لکه د پښتو ژبې د نورو ګړدودونو غږاکونکي چې وائي. ځکه چې دلته هم زياتره وخت د کلمو په منځ کښې لږ اوږد او پاے کښې لنډ وئيل کېږي. چې کوم ځانګړي لهجوي خصوصيات نۀ رامنځ ته کوي، لکه:

| غږ | معياري ګړدود | منځنۍ/ک | معياري ګړدود | منځنۍ/ک | معياري ګړدود | منځنۍ/ک |
|---|---|---|---|---|---|---|
| /و/ | اور | اور | پور | پور | پښتو | پښتو |
| /o/ | or | or | por | por | paśto | paśto |
| | اوبه | اوبه | کور | کور | زانګو | زانګو |
| | oba | oba | kor | kor | zango | zango |

(۲.۷). **معروف يا لنډ (و ــــ ū)** :

(و ــ ū) پورتنے، وروستني، ګړد او سست خپلواک غږ او د دې لهجوي ډلې ( سهېل ختيځ ګړدود) ټول غږاکونکي ئې په خپل اصل تلفظ (و ـ o) وائي. د کلمو په منځ، سر او پاے کښې کوم ځانګړے متبادل غږ نۀ لري، لکه:

| غږ | معياري ګړدود | س/خ/ک | معياري ګړدود | س/خ/ک | معياري ګړدود | س/خ/ک |
|---|---|---|---|---|---|---|

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| /و/ | اولس | اولس | نوم | نوم | شفتالو | شپتالو |
| /ū/ | ūlas | ūlas | nūm | nūm | śaftālu | śaptālu |
| | اوم | اوم | خوم | خوم | سالو | سالو |
| | ūm | ūm | xūm | xūm | sālū | sālū |

دلته باید یوه یادونه وکړو چې د دې لهجوي ساحې هغه اوسېدونکي چې په کوټه وال سیمه ایز ګړدود (کاسي لهجه) خبرې کوي، هغه د یو شمېر کلمو د منځ معروف (و ـــ ū) په د (ي ـــ i) په خپلواک غږ تلفظوي، لکه موږ: میږ او نور.

## (۳). د نیمواک (sime vowels) غږونو له پلوه

د نیمواک غږونو (sime vowels) د تعریف پر برخه کښې موږ وئیلي دي چې دا هغه غږونه دي چې په یوه څپه کښې د خپل موقعیت پر بنیاد د کله د خپلواک او کله د بېواک غږونو ځانګړنې خپلوي. که د یوې څپې زړے یا نیوکلس وګرځي نو خپلواک شي او که ئې نۀ وګرځي نو بېواک شي. د تعریف پر وخت ئې دا ځانګړنه هم په تکراري بڼه بیانېږي چې دا هغه غږونه (نیمواک) د خپلواک او بېواک غږونو ترمنځ د منځګړتوب رول لوبوي. د نیمواک غږونو شمېر دوه (و ، ے)دے، دغه غږونو د نورې پښتو په څېر د سهېل ختیځ ګړدود په غږیز نظام کښې ورته ځانګړنې لري. لکه:

| غږ | معیاري ګړدود | منځنۍ /ک | معیاري ګړدود | منځنۍ /ک | معیاري ګړدود | منځنۍ /ک |
|---|---|---|---|---|---|---|
| /و/ | ور | ورک | حیوان | غویمنډ | ویاړلی | تاداؤ |
| /w/ | way | wrak | aywān | pilāw | wiyār | tādāw |
| | یو | یاد | میدان | اینه | ګاے | منګے |
| | yāw | yās | maydān | ayna | gāy | mangay |

## (۴). د غبرګغږونو (diphthings) له پلوه

غبرګغږونه هم د غږیز برخه او دا هغه غږونه دي چې د خپلواک او نیمواک غږونه په یو بل پسې اووډلو څخه منځ ته راځي، د دې باوجود چې وجود دوو فونیمکي توکو(وړومبي خپلواک او دویم نیمواک) څخهه جوړ وي. خو د وئیلو پر وخت یو غږ ښکاري. چونکې د نیمواک غږونو شمېر دوه (و ، ے) دے ځکه دغه غږونو په دوو ډلو تقسیم شوي دي.

هغه غبرګغږونه چې د (و ـــ w) ئې رکن وي، پرته له دوو خپلواکو غږونو (وـ o) او (و ـ ū) نور ټول بېواک غږونه ( a, ə, ā, i, e) راتلے شي. د سهېل ختیځ ګړدود ډلې غږېز نظام هم په دې برخه عمومي پښتو ته ورته ځانګړنې لري، لکه:

| /ew/ | /iw/ | | /əw/ | /aw/ | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لیو | تریو | تاداؤ | کټو | لو | /و/ | معیاري ګړدود |
| lew | triw | tādāw | kaṭəw | law | /w/ | |
| ..... | تریو | تاداؤ | کټو | لو | | س/خ/ ګړدود |
| ..... | triw | tādāw | kaṭəw | law | | |

په سهېل ختیځ لهجه کښې نه یوائې دغه ټول غبرګغږونه شتون لري بلکې د تلفظ له پلوه هم کوم داسې ځانګړې لهجوي خصوصیات نهٔ لري، چې له امله ئې د پام وړ غږېز یا لهجوي تغیرات رامنځ ته شي. فقط د دې لهجوي ساحې د شمال لوېدیځ سیمو لکه پښین، عبدالله خان، ګلستان، چمن، دوه مندي، توبه اڅکزي او نورو اوسېدونکي دغه ږغ ځیني ځایونه په (و ـ w) تلفظوي. په خصوص د کلمو د سر نیمواک (و ـ w).

| /ew/ | /iw/ | | /əw/ | /aw/ | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ویره | ویاله | وېش | وزه | ویدهٔ | /و/ | معیاري ګړدود |
| wira | wiyāla | weś | wza | widə | /w/ | |
| ویره | ویاله | بیش | وزه | ویدهٔ | | س/خ/ ګړدود |
| bira | biyāla | biś | bza | bidə | | |

البته د دې ډلې کوم داسې غږ نهٔ هم شو پیدا چې تر (و ـــ w) له مخه د (ې ـــ e) خپلواک غږ ولري.

دا ډول هغه غبرګغړونه (diphthongs) چې دويم رکن ئې د (ے ـ y) نيمواک غږ وي، پرته له دوو خپلواکو غږونو (ې ـ e) او (ي ـ i) نور ټول خپلوک غږونه ( a, ə, ā, i, e) ئې د وړومبي رکن په توګه راتلے شي. د دې لهجوي ډلې غږيز نظام په دې برخه کښې هم پرته له يو شمېر ذيلي غږيزو تغيراتو نور د پښتو مرکزي ګړدود ته ورته خصوصيات لري. داسې مهم غږيز يا لهجوي تغيرات نۀ لري چې ځانګړي ئې وګڼو. د مثال په توګه د دې لهجوي ساحې زياتره ږغاکونکي د هغو غبرګغړونو چې د (ا ـ ā) او (ے ـ y ) رغښت څخه منځ راځي، د منځ (ا ـ ā) د خپل اصل تلفظ پر ځاے (ه َ ـ a ) ته ورته تلفظوي، لکه:

| /oy/ | /ūy/ | /āy/ | /əy/ | /ay/ | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| چاے | پاے | ځاے | پاے | ګاے | /ے/ | معياري ګړدود |
| cāy | pāy | ǰāy | pāy | gāy | /y/ | |
| چے | پے | ځے | پے | ګے | | س/خ/ ګړدود |
| cay | pay | ǰay | pay | gay | | |

خو بل لور ته د دې ډلې نور ټول غبرګغړونه په خپل اصل تلفظ وئيلے شي. لکه:

| /oy/ | /ūy/ | /āy/ | /əy/ | /ay/ | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| دوے | خوے | ګاے | نړۍ | ايوان | /ے/ | معياري ګړدود |
| doy | xūy | gāy | nāṛəy | aywān | /y/ | |
| دوے | خوے | ګاے | نړۍ | ايوان | | س/خ/ ګړدود |
| doy | xūy | gāy | nāṛəy | aywān | | |

په سهېل ختيځ لهجه کښې نه يوازې دغه ټول غبرګغړونه شتون لري بلکې د تلفظ له پلوه هم کوم ځانګړي لهجوي خصوصيات نۀ لري. البته دې لهجوي ساحې شمال لوېديځ

سیمو لکه چمن، توبه اڅکزي او نورو اوسېدونکي د (əy) غبرګغږ لږ په بدل تلفظ وائي، لکه:

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | /əy/ | /əy/ | /əy/ | /əy/ | /əy/ |
| معیاري ګړدود | /ے/ | نړۍ | سدرۍ | سپوږمۍ | سیلۍ | ډوډۍ |
| | /y/ | naṛəy | sadṛəy | spoẓməy | siləy | ḍoḍəy |
| س/خ/ ګړدود | | نړیه | سدریه | سپوږمیه | سیلیه | ډوډیه |
| | | naṛəa | sadṛəa | spoẓməa | siləa | ḍoḍəa |

پایله: د خپلواک، نیمواک او غبرګغږونو په اړه د تېر څېړنیز بحث له رویه دا خبره څرګنده شوه چې دغه لهجوي ډله (سوهېل ختیځ ګړدود) د بېواک غږونو په څېر د خپلواک، نیمواک او غبرګغږونو له پلوه هم ځان ته داسې ځانګړے نظام او لهجوي اصول لري، چې د تعین او ټاکنې کار ئې ګران ګڼلے شي. ځکه چې دغه غږونه پر یوۀ موقعیت په یوۀ او بل موقعیت په بل غږ ځان بدلوي. البته په څنګ کښې دا یادونه هم ضروري ده چې په مجموعي توګه د دې لهجوي ډلې د رغښت او سازولو په کار کښې د دغو ټولو غږونو (خپلواک، نیمواک، غبرګ) رول تر اوستري بریده اغېزناک ښکاري. په خصوص د یو شمېر خپلواکو غږونو د متبادلو تلفظاتو د خپلولو په نتیجه کښې چې کوم لهجوي تغیرات منځ ته راځي، هغه د پام وړ او ډېر اهم دي.

که د بحث لمن راونغښتل غواړو نو وئیلے شو چې (ا/آـــ ā)، (زور ـــā)، (ي ـــ i)، (ۀ ـ ə)، (و ـ ū) او (و ـ o) هغه خپلواک غږونه دي چې د دغې لهجوي ډلې ټول اوسېدونکي ئې په خپل اصل تلفظ وائي. فقط د کلمو د سر (ا/آ ـ ā) تر خپل اصل تفظ لږ لنډ یا وئیلے شو چې (زور ـــā) ته ورته تلفظوي.

خو بل لور ته (ې ـ e) هغه خپلواک غږ دے چې پر یوۀ وخت څو متبادل غږونه خپلوي. کله په (ا/ـ ā) کله په (هَ ـ ā) او کله په بل غږ ځان بدلوي. چې په نتیجه کښې ئې د پام وړ غږېز او لهجوي توپېرونه رامنځ ته کېږي. بله د پام وړ خبره دا ده چې د دې لهجوي ډلې ټول ږغاکونکي (لساني ډله) پرته له ځینو موقعیتونو لکه د ډېر، هېر (اېر) او یو شمېر نورو

کلمو کښې، نور دغه غږ کارونه نۀ کوي. چې د دې لهجوي ډلې ځانګړے لهجوي خصوصيت ئې هم ګڼلے شو.

دا ډول د دې لهجوي ساحې (سهېلي پښتونخوا) هغه اوسېدونکي چې په کوټه وال سيمه ايز ګړدود (کاسي لهجه) خبرې کوي، هغه د يو شمېر کلمو لکه «موږ» د منځ معروف (و ـــ ū) په (ي ـــ i) تلفظوي، لکه موږ: ميږ. خو بل لور ته دغه غږيز تغير په هغه کچه هم په پراخه پېمانه نۀ رامنځ ته کېږي، لکه د پښتو ژبې په يو شمېر نورو ګړدودونو په خصوص په کرلاڼي ګړدود ډله کښې.

د نيمواک ږغونو (Simi vowels) له پلوه هم دغه لهجوي ډله (سهېل ختيځ ګړدود) د پښتو مرکزي ګړدود ته ورته غږيز او لهجوي خصوصيات لري. فقط د دې لهجوي ساحې د شمال لوېديځ سيمو لکه: پښين، عبدالله خان، ګلستان، چمن، دوه مندي، توبه اڅکزي او نورو اوسېدونکي د (و ـــ w) ږغ په (ب ـــ b) تلفظوي، په خصوص د کلمو د سر نيمواک (و ـ w) لکه: ويره، بيره، وزه: بزه، وياله: بياله، اوده: بيده او نور

د غبرګغږونو (diphthongs) له پلوه هم دغه لهجوي ډله (سهېل ختيځ ګړدود) کوم داسې ځانګړي لهجوي او غږيز خصوصيات نۀ لري، چې په نتيجه کښې ئې د پام وړ غږيز يا لهجوي تغيرات رامنځ ته شي. يواځې د هغو غبرګغږونه (diphthongs) چې د (ا ـ ā) او (ے ـy ) رغښت يا پيوستون څخه منځ راځي، د هغو د منځ (ا ـــ ā) زور (هَ ـــ a) ته ورته تلفظېږي. لکه: ګاے، ګے، ځاے، ځے، پاے: پے او نور

دا ډول د دغو غږونو (diphthongs) د تلفظ په برخه کښې بل غږيز تغير هغه وخت تر سترګو کېږي، چې کله د دې لهجوي ساحې د شمال لوېديځ سيمو په خصوص د چمن او توبه اڅکزي اوسېدونکي د (ی ـ əy) ږغ په بدل ږغ (يه ـــ əa) تلفظ کړي. البته دغه لهجوي تغير تر يوې محدودې سيمه محدود پاته دے. ځکه چې د دې لهجوي ساحې نور ږغاکونکي (لساني ډله) کولے شي چې دغه غبرګغږ (ی ـــ əy) په خپل اصل تلفظ وائي. لکه: سيلۍ، نجلۍ، ډوډۍ، سپوږمۍ، شړۍ او نور.

# حوالې

[1] . Morgenstierne, Georg, Report on a linguistic Mission to north-western India. p. 10

[2] . اتل، میرحسن خان، د سهېل ختیځ ګړدود لساني مطالعه، پښتو اکېډیمي، پېښور پوهنتون، کال ۲۰۲۳م، مخ

[3] . اتل، میرحسن خان، د سهېل ختیځ ګړدود لساني مطالعه، پښتو اکېډیمي، پېښور پوهنتون، کال ۲۰۲۳م، مخ

[4] . زیار، مجاور احمد ، پښتو پښویه، دانش خپروندویه ټولنه، کال ۲۰۰۳م، مخ ۲۹م.

[5] . مرهون، محمود ، اواز پوهنه، کائنات څېړنیز او ژباړې مرکز، کابل، کال ۱۳۹۴ ل م، مخ ۶۲م

[6] . زیار، مجاور احمد ، پښتو پښویه، دانش خپروندویه ټولنه، کال ۲۰۰۳م، مخ۲۵ م.